**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پانه:** www.unama.unmissions.org

**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**داکتر نیلاب مبارز، د یوناما د استراتیژیکو اړیکو او ویاند د دفتر څخه**

*کابل- دوشنبه، د اپریل د میاشتی دیارلسمه نیټه، کال ۲۰۰۹*

**یوناما:** سهار مو په خیر، تاسو ټولو ته ښه راغلاست وایم. په لومړی سر کی یو څو اعلانونه تاسو ته وړاندی کووم او ورپسی به په خوښی سره ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایم.

## ستاره اڅکزی

یوناما د آغلي ستاره اڅکزی د پرون ورځي د بي احساسه وژني په هکله چې په کندهار کې يې د خلکو د خدمت کولو لپاره ځان وقف کړی وه خواشینی ده. آغلي ستاره یوه زړه وره ښځه وه، نوموړي د کوم ډار نه پرته د هیواد په نا امنه سیمو کي د خپل هیواد لپاره کار کاوه.

د دغه بي عاطفي عمل مسوولو کسانو د هیواد د ريښتيني ویاړ او دود او دستور په وړاندې نه درناوي په ډاګه کړ. د داسي ډارن عمل لپاره هیڅ ډول توجیه نه لیدل کیږي.

یوناما د کندهار ولایت قانون پوه آغلي ستاره اڅکزی ناسمه او عمدي مړینه په کلکه غندي.

موږ ټول په ملګرو ملتونو کی د دی مړيني له امله خواشيني یاستو او زموږ همدری په دی سخت وخت کی د آغلی اڅکزی د کورني او د ملګرو سره ده.

## د ګوزڼ د خوندیوالی او معافیت دریږ ورځنی کمپاین

د هیواد په ۱۵ ولایتونو کي پرون د عامه روغتیا د وزارت له خوا د نړیوال روغتیايي سازمان او یونیسف په مالي ملاتړ د ګوزڼ د خوندیتوب په موخه د ګوزڼ کمپاین پیل شو.

دا کمپاین د مصونیت د بشپړونکی کمپاین په دوام ترسره کیږي او موخه يې د هیواد په د ننه کي د ګوزڼ د ویروس د خپریدو او همدارنګه د ګاونډیو هیوادونو څخه د دي ویروس د راتلو مخه نیول دی.

د عامه روغتیا د وزارت د ۲۰،۰۰۰ څخه زیات واکسین لګوونکی د ګوزڼ د واکسین په دغه دریږ ورځنی کمپیان کي برخه لري او تمه کیږي چي د ۵ کلنو څخه ټیټ عمر ماشومانو نږدې ۳ میلیونه ماشومان تر پوښښ لاندې ونیسي.

نن موږ په دولت ضد عناصرو غږ کوو څو واکسیناتورانو ته اجازه ورکړي چي د هلمند ولایت د نادعلی او نوزاد ولسوالیو ماشومانو ته واکسین ولګوي. هغوي حق لري چي د ګوزڼ د ناروغی د ویروس په وړاندې معافیت حاصل کړي.

## د مارچ د میاشتي لپاره د نړیوال خوراکي پروګرام د خوراکي توکو ویش

د مارچ په میاشت کي، نړیوال خوراکي پروګرام د کار لپاره د خوراکي توکو د پروګرامونو له لارې د ۵۶۰،۰۰۰ څخه زیاتو کسانو سره، د نری رنځ د ۳۰،۰۰۰ ناروغانو او د هغوي د کورنیو سره او همدارنګه د عمومي خوراکي توکو د ویش د پروګرامونو له لارې د ۵۰۰،۰۰۰ زیاتو کسانو او د ۴۶۵،۰۰۰ زده کوونکو سره په ښوونځیو کي د خوراکي توکو مرستي ترسره کړې دي.

د ۲۰۰۹ کال په جریان کي به نړیوال خوراکي پروګرام په هیواد کي د ۸،۸ میلیونو وګړو سره مرستي ترسره کړي.

د نړیوال خوراکي پرورګرام ویاند له موږ سره نن دلته دی او د کنفرانس په پای کي به د مرکي او پوښتنو لپاره ستاسو په خدمت کي وي.

## د نوو ګرځنده روغتیایي واحدونو څخه وروسته پاتې کلیوالي ټولنې ګټه اخلي

د لرو خدمتونو څخه برخمنې کلیوالي ټولنې به په لیرې پرتو کلیوالو سیمو کې د بنسټیزو روغتیایي خدمتونو څخه ګټه واخلي. د ملګرو ملتونو د نفوسو پانګه (یو این ایف پی ای) ۱۵ګرځنده روغتیایي واحدونه د هیواد په ۲۸ ولسوالیو کې ځای پر ځای کړې دي. دغه روغتیایي واحدونه به دا باوري کړي چې روغتیایي خدمات چې د روغتیایي روزل شوو مسلکي کسانو له خوا برابریږي هغه به د روغتیایي مرکزونو څخه د باندې کلیو ته پراخه شي. د ۲۰۰۹ کال په ترڅ کې به لیرې پرتې سیمې تر پوښښ لاندې راشي.

## د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري د پخپلې خوښې راستنیدنه د لږ وخت لپاره ځنډ و لی ده

د معمول سره سم د مراقبت په موخه د پرون څخه د پاکستان په شمال لویدیځې صوبې د پیښور په ښار کې د افغانانو د خپلې خوښې د راستنیدنې مرکز چې د یو این ایچ سی آر په مرسته کار کوي خپل کار ځنډولی دی.

موږ هیله لرو چې دغه مرکز به په راتلونکو ورځو کې بیرته پرانیستل شي.

هغه ثبت شوي افغانان چې غواړي د خپلې خوښې د راستنیدنې دغه مرکز ته ورشي ورته خبر ورکول کیږي چې د نوې اطلاع پورې هلته مراجعه و نه کړي. یو این ایچ سی آر به افغانان د دې څخه خبر کړي کله چې د بیرته راستنیدنې پروګرام د پیښور د حیات آباد د مرکز څخه بیا پیل شي.

## د وچکالی څخه اغیزمنو شوو کورنیو مرسته تر لاسه کړه

د وچکالی له امله درې سوو بیځایه شوو کورنیو چې د یوناما له خو ایي پیژندنه شوې وه د ۳۰ ټنو او یا ۶۰۰ بوجیو اصلاح شوي تخمونه د بلخ د ولایت د شولګرې د ولسوالی په نوی قشلاق کې تر لاسه کړي.

هرې کورنی ۱۰۰ کیلو ګرامه تخم تر لاسه کړل چې د ۷،۶ جریبو ځمکې لپاره کافي دي، دغه مرسته د جی ټي زیډ له خوا د یو این ایچ سی آر سره په همکاری کې برابره شوې وه. ډیرو کورنیو سملاسی د هغو کرکیله پیل کړله ځو چې د اوسنیو بارانونو څخه ګټه واخلي.

دا دغو کورنیو ته د دې امکان برابروي چې د خپلې هستوګنې اصلي ځایونو ته راستانه، خپلې ځمکې وکري او یو ځل بیا پخپله خود کفاء شي. یو این ایچ سي آر د نورو فعالینو سره هڅه کوي چې د دغو بیځایه شوو کسانو لپاره د پایښت لرونکي حل لاره ومومي، هغوی چې د جګړې او وچکالی دواړو له خوا ځپل شوي دي.

## د بشرپالنې د مرستو د پروګرام د ویش په اړه نوې معلومات

د کډوالی نړیوال سازمان په بدخشان کې د هغه ولایت د زیباک په ولسوالي کې له ۲۰۰ زیانمنیدونکو کورنیو سره په کورونو کې د ضروري وسایلو مرسته کړې ده. د کډوالی نړیوال سازمان دفتر په هرات کې د دې ولایت د کوشان په ولسوالي کې له ۲۷۰ سیلاب ځپلو کورنیو سره په کورونو کې د ضروري وسایلو مرسته کړې ده.

د حوادثو په ضد ولایتي کمېټې د هرات ولایت د کوشان او غوریان په ولسوالیو کې ۱۷۰ سیلاب ځپلې کورنۍ تشخیص کړې دي او نوموړی سازمان د دې کورنیو لپاره د سیلاب ضد کورنی وسایلو مرستې تیارې کړې دي چې په راتلونکو اونیو کې به ورته وویشل شي.

په شمال ختیځ کې د کډوالۍ نړیوال سازمان له ۳۲۰ زیانمنیدونکو کورنیو سره د ژمي د ضروري وسایلو مرسته کړې ده او د تخار، کندز او بغلان د ولایتونو له ۳۲۰ کورنیو سره د غیر غذایي موادو مرسته وکړه. دغه کورنۍ د محلي چارواکو له خوا له یوې سروې څخه وروسته پیژندل شوې دي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان د بشرپالنې د مرستو پروګرام په افغانستان کې د بشري اړتیاوو او همکاري په بنسټ خپلې مرستې وړاندې کوي.

## د تخار په ولایت کې د سرحدونو د تنظیم د چارو سمبالښت

د تخار په ولایت کې به چې د تجارت لپاره ډیر مناسب شرایط لري او د مشروع تجارت یوه مهمه لار ده ډیر ژر د سرحدونو د تنظیم یوه اداره په کار پیل وکړي، د دې ادارې د ودانۍ کار د آی خانم په غاړه د تخار ولایت په شمال ختیځ برخه کې چې له تاجکستان سره ګډه پوله لري پیل شوې دی. دغه کار د افغان حکومت د هغو هڅو له ډلې څخه دی چې د پولو د ښه کولو او مشروع تجارت په بهتره کولو کې یې کوي.

د دې نوې ادارې جوړیدل به له دې سره مرسته وکړي چې په تدریجي ډول ګمرکي چارې بهبود پیدا کړي او په دې وسیله به په ملي کچه د ګمرکونو د عوایدو په راغونډولو کې زیاتوالی راشي.

په دې پروژه کې بنیادي ساختارونه، د دفترونو، کورونو او ګودامونو په ګډون جوړیږي او دغه راز ګمرکي چارواکي او سرحدي پولیس به په لازمو وسایلو سمبال شي.

دغه پروژه د جاپان د حکومت په مالي مرسته جوړیږي او د یوناپس (UNOPS) او د مالیې وزارت د ګمرکونو د ریاست او د تجارت د وزارت په همکاري به تطبیق شي.

د جوړولو او روزنې ټول فعالیتونه به د ۲۰۱۱ کال تر اګست څخه د مخه پای ته ورسیږي.

## د ایډز د ناروغۍ مخنیوی او په افغان کډوالو کې په نشه یي توکو روږدو کسانو لپاره روغتیایي خدمتونه

په دې وروستیو وختونو کې د ایډز د ناروغۍ د مخنیوی او په ایران او پاکستان کې د افغان کډوالو او افغانستان ته د راستانه شویو افغان کډوالو په منځ کې په نشه یي توکو روږدو کسانو د خدمتونو لپاره یوې نوې پروژې په سیمه ییزه کچه کار پیل کړی دی.

د پروژې هدف دا دی چې په نیمه سیمه ییزه کچه نوښت طرح او ادامه ورکړي څو د ایډز د ناروغۍ د بشپړې مخنیوی او هغه خدمتونه تقویه او یقیني شي چې په ایران او پاکستان کې د افغان کډوالو او افغانستان ته د راستنیدونکو کډوالو په منځ کې هغو کسانو ته په نظر کې نیول شوی چې نشه یي توکي تزریقوي او یا د هغو په استعمال روږدي دي.

دغه نوښت به د دریو ملکونو د حکومتونو په مټه او د نشه یي توکو سره د مبارزې او د کډوالو د چارو وزارتونو او دغه راز د یو این ایچ سي آر د کډوالۍ نړیوال سازمان او د یو این ایډز په نږدې همکاري ترسره شي، چې د افغان کډوالو لپاره د سرحد په اوږدو کې او په پاکستان او ایران کې د افغان کډوالو لپاره د اوسیدلو په لویو سیمو کې او په افغانستان کې د راستانه شویو افغان کډوالو په سیمو کې د ایډز د ناروغۍ د بشپړې مخنیو او نورو خدمتونه ورسیږي.

**<u>د پوښتنو او ځوابونو برخه:</u>**

**د نور تلویزیون:** د ملک په یو شمیر ولسوالیو کې د امنیتي اوضاع په اړه ډېرې اندېښنې موجودې دي. د ځینو منابعو په قول ۱۵۶ ولسوالی نا امنه دي. که دغه نا امنی په نظر کې وساتو ددې امکان شته چې په ټول ملک کې عمومي ټاکنې سرته ورسیږي؟

**یوناما:** ستاسې پوښتنه له ډېرو نورو خلکو سره هم شته. په دې وخت کې په رښتیا هم ډېره ګرانه ده چې ووایو ایا نا امني به د ټاکنو په رانږدې کیدو سره ادامه پیدا کړي او که نه. کوم شي چې موږ په هغه ټینګار کوو دا دی چې ټول فعالین د نړیوالې ټولنې او د افغانستان د حکومت په ګډون باید ټولې هڅې سره یو ځای کړي څو په ټول هیواد کې ټاکنې د امن او اطمینان په فضا کې ترسره شي. موږ بیا هم په دې ټینګار کوو چې نړیواله ټولنې د دې ژمنه کړې ده چې د افغانستان له حکومت سره به د ټاکنو لپاره د امنیت په برابرولو کې مرسته کوي.

**افغانستان ټایمز:** زما لومړۍ پوښتنه د یو این ایچ سی آر په مرسته د خپلې خوښې د راستنیدو د پروګرام بندولو په باره کې ده. او زما دویمه پوښتنه د نړیوال خوراکي پروګرام د بودجې په باره کې ده او څومره بودجې ته اړتیا ده؟

**یوناما:** ستاسې د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې د پاکستان د شمال غرب صوبې، پیښور کې د افغان کډوالو لپاره د خپلې خوښې راستنیدو پروګرام له پرونه راهیسې د عادي مراقبتي چارو په وجه په موقت ډول بند شوی دی.

ستاسې د دویمې پوښتنې په ځواب کې، د نړیوال خوراکي پروګرام به د دې کال په موده کې ۸،۸ میلیونه خلکو ته غذايي مرستې ورسوي. د تیر کال په پرتله سږ کال به ډېر زیات شمیر خلک غذايي مرستې تر لاسه کړي او د دې یو دلیل، د نورو عواملو تر څنګ، دا دی چې د غذايي موادو بیې لوړې شوې دي او په افغانستان کې تیر کال وچکالي ډېره وه.
په نظر کې دی چې ۳۱۷۰۰۰ متریک ټن غذايي مواد به وویشل شي. د بودجې په برخه کې باید وویل شي چې نړیوال خوراکي پروګرام باید ۱۴،۴ میلیون ډالر د دې کال تر پایه زیرمه کړي که څه هم نړیوال خوراکي پروګرام کافي منابع درلودې چې د ۲۰۰۸ کال د جولای د میاشتې غوښتنو ته ځواب ووايي چې د وچکالی او لوږو بیو له امله شوې وې.

**رادیو آزادی:** زما پوښتنه د ټول ټاکنو په اړه ده، پرون ځینو نوماندو د رای ورکوونکو د ثبت د پروسې د روڼوالی د نه شتون په هکله خپلې اندېښنې څرګندې کړي، هغوی دا هم وویل چې حکومتی دستګاه د دې موخې لپاره ناوړه کارول کیږي، په دې هکله د یوناما دریځ څه دی؟ آیا تاسو د ټول ټاکنو د نظارت کولو لپاره کوم پروګرام لرئ؟

**یوناما:** لکه څنګه چې تاسو پوهیږي دغه ټول ټاکنې به د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا تنظیم شي، د دې خبرې څرګندول ډېر ضروري دی چې دا ځل به ټول ټاکنې د یوناما او د ټول ټاکنو د تنظیم د ګډ بورډ له خوا تنظیم نشي.یوناما هم د ټول ټاکنو یوه کاری برخه لری چې د سیاسی احزابو، ناظرینو، مدنی ټولنه او نورو ګروپونو او نهادونو سره یو ځای کوي تر څو داسی و چاپیریال را منځ ته شی چې په کی ټول ټاکنی په سم ډول تر او بریالی توګه تر سره شي. موږ غواړو چې دغه ټول ټاکنې روښې، عادلانه او اعتبار لرونکې وي. موږ ټولو افغانانو ته وایو چې دغه ټول ټاکنې ستاسو لپاره دی، دغه ټول ټاکنې د افغانستان د پرمختیا لپاره دي.

**د نګاه تلویزیون:** داسې راپورونه شته چې ګواکې د هیواد ۵۰ سلینه په مستقیم یا نا مستقیم ډول د طالبانو تر واک لاندې دي. زه یوازې غواړم پوه شم آیا یوناما دغه شمیرې مني یا څنګه؟

**یوناما:** زه د دغو شمیرو د سرچینې په هکله معلومات نه لرم. موږ نشو کولای د داسې راپورونو په اړه تبصره وکړو، خو ځینې کسان ښايي زما سره د دغو راپورونو د ناسموالی په هکله یو شانته نظر ولري. زه فکر نه کوم چې ددغو سرچینو راپورونه دې سم وي، موږ نشو کولای دغه مبالغه شوی راپورونه تصدیق کړو.

**ایرنا:** آیا یوناما فکر کوي چې د اهل تشیع د شخصی احوال د قانون په اړه به توافق راشي؟ له هغه ځایه چې یوناما په دغه مثلث کې یو له تصوبیوونکو زاویو څخه ده، په بله زاویه کې افغان حکومت او ځینې هیوادونه او نړیوال سازمانونه دي، آیا د دغې مسلې به اړه د تفاهم امکان شته؟

**یوناما:** لکه چې تاسو وویل دغې ستونزې د افغانستان د ننه او د باندې بحثونه راپورته کړي دي. ملګري ملتونه د دې مسلې په اړه ډېره اندیښنه لري. د دې لامل دلته د ټولو افغانانو د حقونو مسله ده. دلته د ځینو ځانګړو موادو په اړه اندیښنه شته چې د نړیوالو ژمنو سره سمون نه لري، په تیره بیا د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو د کنوانیسیون او یا هم کیدلای شي چې د افغانستان د اساسي قانون سره سمون ونه لری.
دلته د دې امکان شته. تاسو کیدای شي د دې څخه خبر ولرئ چې ولسمشر د دغه قانون د سره کتنې حکم کړی دی. په دې پړاو کې به موږ د هغو ادارو د اجرااتو انتظار ولرو چې ولسمشر د دغه قانون د بیا کتنې لپاره موظف کړي دي. موږ ددې په انتظار کې یو. موږ په دې نوره تبصره نه کوو.

**کلید راډیو:** د ای ایف پی سره په یوه وروستنی مرکه کې د سی آی ای د سازمان مشر وویل، د متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما سی آی ای ته دنده سپارلې چې د نړۍ په کچه ټول زندانونه وتړي. آیا په افغانستان کې دا ډول زندانونه موجود دي او آیا د بګرام بندې خانه هم په دې کټګورې کې راځي؟

**یوناما:** زه فکر کووم چې ښه به دا وی چې تاسو خپله د سی آی ای او یا د متحده ایالاتو د دولت څخه پوښتنه کړي وي. او تاسو پوهیږي چې د بګرام زندان د ایتلافی ځواکونو په کنترول کی دي. لکه څنګه چې تاسو پوهیږي د متحده ایالاتو ولسمشر د ګوانتامو د زندان د تړلو امر کړی. ملګري ملتونه د متحده ایالاتو د اداري د دغی پریکړي ستاینه کوي، تمه کوو چې ورته اقدام په بګرام کې هم ترسره شي.

**صدای افغان:** ستاسي نظر د ډله ییزو قبرونو او ددغو جنایتونو د عاملانو په اړه او ددې واقعیت په برخه کې چې ولسمشر حامد کرزی د ې وروستیو کې وویل چې خلک باید تیر په اړه فکر و نه کړي بلکې د راتلونکې په اړه فکر وکړي. او په کندهار کې د شورا د غړي په اړه، تاسو څه فکر کوئ، چې څوک ددې مسوولیت لري او یا هم ددغې وژنې مسوولیت یې په غاړه اخیستې وي؟

**یوناما:**
ستاسې د لومړۍ پوښتنې په اړه، له بده مرغه په افغانستان کې په تیر وخت کې ډیرې ناوړه پیښې شوې دي، چې هغو کې ډله ییز قبرونه هم دي. یوناما او د یوناما د بشري حقونو څانګه د ټولو اړوندو اړخونو سره د کورنیو چارو د وزارت د جنایي جرمونو د ریاست په شمول د نړدې څخه کار کوي. موږ همدارنګه عدلي طب متخصص چې په نړیواله کچه د عدلي طب تخصص لري برابروو.

لکه چې تاسو پوهیږئ دا د یوناما د دندو یوه برخه ده چې د افغان ادارو سره د هغوي د غوښتنې په صورت کې مرسته وکړي
موږ نه پوهیږو چې چا ستاره اڅکزئ چا وژلې ده، خو هر چا چې دغه جنایت کړی وي یو بزدلانه او په هیڅ ډول د منلو وړ عمل نه دي او موږ په کلکه سره هغه غندو. موږ د افغان حکومت څخه غواړو چې مسوول کسان د عدالت منګولو ته وسپاري.

**د طلوع تلویزیون:** تاسو همدا اوس د جګړې او د تنظیموونکو پوستو په هکله وویل چې جوړیږي به او دا په شمال ختیځ کې یوه پوښتنه ده، د هیواد په نورو سرحدي سیمو کې څه حالت دی؟ ستاسې د معلوماتو پر اساس آیا تاسو په دې باور یاست چې د دغو پولو د لارې قاچاق او ترافیک شته؟

**یوناما:**
د طلوع تلویزیون د پوښتنې د پوښتنې په اړه، د سرحدي پوستو په اړه چې په سرحدي ولایتونو کې جوړیږي، موږ دغه د کنترول پوستې په اسلام قلعه او تورخم کې ګورو خو دا یوازې د تخار په ولایت کې نه ده. د دغو کنترولی پوستو حوړولو موخه دا ده چې د پولې څخه د تیریدو او راتیریدو بهیر قانوني شي. دا یوه ستره پروژه ده او موږ به تاسو ته ددغو ډول نوښتونو په اړه معلومات درکړو.

مننه

۲۰۰۹/۴/۱۳